# پښتون

# قامی وحدت

محمد افضل خان



د کتاب نوم : ——— پښتون قامی وحدت

لیکوال : ——— محمد افضل خان

دچاپ کال : ——— نومبر ۱۹۹۶ء

چاپ کوونکی : ——— ملت ایجوکیشنل پرنٹرز لاهور

بیعه : ——— ۴۰ روپے

خورونکی : ——— پښتونخوا پبلی کیشنز پېښور



# تړون

د پښتون ځوان نسل اؤ هاغه ټولو باشعوره لیکوالو، ادیبانو، پوهانو، سیاستمدارانو اؤ خواری کښو پښتنو په نوم څوک چې د پښتون دقامی وحدت د پاره هلې ځلې کوی.

***

محمد افضل خان

بسم الله الرحمن الرحیم

کله په زړکه نظر واچوئو شي نو چیرته لوړ دنګ غرونه دي، چیرته د غرونو په سرونو واورین پټکي دي، او چیرته ئې ځان په شنو دوشالو کښې پټ کړے دے، چیرته په غرسبار روان سیندونه دي او چیرته سر دري. ځائې په ځائې پکښې سمندرونه، دشتې، هوار او پراخه میدانونه دي او چیرته چې ورشو ګانې او شاړې شودیاړې په ظاهره دزمکې طبعی خدوخال هم دے او داب وهوا د څرنګوالی عواسل هم دي خوتر شائې په فطری ډول یو عظیم الشان مقصد هم پروت دے.

کله لږ په غور سره وکتل شي نو دزمکې دغه طبعی خدوخال دمختلفو جغرافیائی وحدتونو څرګندونه کوی. چیرته د یو جغرافیائی وحدت تړون داسې دے چې لوړ، دنګ او اوچت غرونه ئې د یو سرحد او پراخه سمندرئې دبل سرحد بندیشونه ښکاره کوی. چیرته د یو هیواد یا جغرافیائی وحدت په یوه او بله غاړه زور، لوئې او غړسبیدلی دریابونه دي، او چیرته پراخه صحراګانې او دشتونه دجغرافیائی وحدت حدونه په ګوته کوی. غرض داچې دزمکې دغه خدوخال په څو ډوله دفطرت د تقاضو او منشاګانو هنداري دي.

دفطرت دغه غوښتنې د جغرافیائی وحدت پورې محدودې نهٔ دی. خبره نوره هم په مخه ځی دجغرافیائی وحدت دزمکې دجوړښت اؤ نورو ډیرو عواملو په اشتراکِ عمل یوه خاص ژبه اؤ کلتوروجود مومی. دغه ژبه اؤ دغه کلتور په ډیره اوږده موده کښې دهیواد جغرافیائی خدوخال نه خپل وجود پیدا کوی. شریک کلتور خلق راغونډ کړی. غونډه ناسته پاسته دود، دستور پیدا کوی. داسې ورو، ورو په غیر شعوری ډول یؤ کلتوری وحدت پیدا شی. چې کله دغه کلتوری وحدت په جغرافیائی وحدت پورې خپل اړیکې مضبوط کړی. نو خبره نوره هم په مخه لاړه شی، فطرت په دغه جغرافیائی وحدت کښې داوسیدونکو دټولو ضروریاتو بندوست کوی. اؤ دپیداوار منابع داولس د ضروریاتو سره سمې موجودې وی.

ددغه منابعو اوداراک اؤضروریات چې سره یؤ شی، نو اقتصاد مینځ ته راوړی. دقامی اؤ انفرادی شته منیؤ تصور پیدا شی. په ټولنه کښې اقتصاد خپلې جرړې مضبوطې کړی داسې جغرافیائی وحدت یؤ کلتوری اؤ اقتصادی وحدت شی. هر کله چې دشتهٔ منیؤ دملکیت تصور پوخ شی اؤ شعور وده و کړی. نو «ددرې اړخیزی وحدت» دساتنې، دفاع اؤ انتظام اړتیا سیاست مینځ ته راوړی. درې اړخیزې وحدت چې کله سیاسی وحدت بیا



مومی نو دیؤقام د تشکیل عمل سرته اورسی. داسې ګویا قام هاغه دے چې په یؤ جغرافیائی ، کلتوری، اقتصادی اؤ سیاسی وحدت کښې پیرلے شوے وی. ددې نه پرته قام تشکیل نهٔ شی موندے. غرض داچې قامونه په فطری ډول دفطرت دمنشا سره سم وجود مومی. څو سره چې «څلور اړخیزې وحدت» لرغونے اؤ فطری وی، هومره ئې وجود سلامت، مسئلې ئې کمې اؤ ملی افتخارات اؤ شهامت ئې پیاوړے وی.

ددې سره په څنګ کښې یؤ بل حقیقت هم موجود دے . چې د تاریخ پاڼې پرې په تواتر سره ګواهی کوی. هغه داچې هر کله په یؤ فطری جغرافیائی وحدت کښې دباهر نه ګوتې ووهلے شی. یا ددغه جغرافیائی وحدت حدونه دفطری حدونو نه پرته په بلې طریقې سره تشکیل شی نو شخړې پیدا شی. "نیشنل ازم" هم ددغه کشالو عکس العمل ته وائی. لوئې لوئې جنګونه هم کیږی اؤ بشریت د جبر اؤ استبداد نه هم تیریږی د زر ګونو کلونو د کلتوری اشتراک اؤوحدت نه چې کوم قام تشکیل مومی. دهغوی جذباتی تړون د خپل جغرافیائی وحدت سره دومره زیات وی چې دهغې دساتنې د پاره هر ډول قربانی ته تیار وی. هم دغه جذبه ده چې ورته «هیواد پالنه» وائی. څومره چې جغرافیائی وحدت زوړ اؤ لرغونے وی، هومره دغه جذبه

زیاته کارفرما، سپیڅلي اؤ سُوچه وی. قام په خپلو عنعناتو سئین اؤ ملی غرورئي ځلانده وی.

ددغه بحث سره سم چي مونږ دنړی په نقشه نظر واچوؤ نو هرځائي چي قامونه پراتهٔ دی. دوی خپل تاټوبی لری. اؤ ددوی په دغه تاټوبی اؤ قامی وحدت کښي چي جابرقوتونو تبدیلی راوستي دی، دپیړو پیړو جبر اؤ غلامی هم ددوی دذهن نه دغه تړون نهٔ دے ویستلے. اؤچي کله ورته موقع په لاس ورغلي ده. دوی خپل قامی وحدت په ځائي کړے دے، لکه څنګه چي په پیړو وروستو جرمن ځان یوځائي کړو. اؤ دغه رنګ په مشرقی یورپ اؤ وسطِ ایشیاء کښي قامی وحدتونه په ځائي کیږی. په دې تناظر کښي دا ګورو چي زمونږ د کتاب دموضوع سره سم دپښتون( افغان) قام جغرافیائی اؤ قامی وحدت دتاریخی اسنادو په حواله کوم اؤ څنګه وؤ؟

دبشری ارتقاء ماهرین په دې خبره متفق دی چي انسانی نسل د مینځنی آسیا نه خورشوے دے. دبشریت په بابله دغه بیان دتاریخی شواهدو نه ثابت دے. دبرصغیر اؤ وسط ایشیاء تاریخ دسکندر مقدونی نه شروع کیږی. اؤ دسکندر په وخت کښي دپښتون قام په اوسنی تاټوبی کښي موجودیت د معلوم تاریخ واضحه حقیقت دے. خو ددې نه هم ډیروړاندې یعنی خواؤشا څلورزره کاله



مخکښي په ویدونو کښي د «پکت» په نوم دیؤ قام اؤ دهغه دمعلوم تاټوبی ذکر موجود دے. هم دغه راز په اویستا کښي د «پښت» اؤ «بښد» اؤ بخل (بلخ) دیؤ قام اؤ دهغه د جغرافیائی وحدت ذکر موجود دے. داهاغه زمانه وه چي قامونه دارتقاء په ابتدائی دوره کښي وؤ اؤ نقل مکانی عامه وه. دقومیتونو دجوړیدو هاغه تصور لا مینځ ته نهٔ وُ راغلے چي جدید اؤ اوسنے تصور پرې ولاړ دے. ددغه خانه بدوشی په دوره کښي دمینځنی اسیا اوسیدونکی چي په تاریخ کښي د «اریا» په نوم مشهور دی، دیورپ اؤ هند خواته اوخوزیدل ددوی یوه حصه دسلیمان غر یا کسی غر(غوړه سرغه یا غوړه سرغی) دلمنو نه خپل اوسنی تاټوبی ته راکوز شول. داخاوره دچترال نه بولان اؤ د«آمو» نه تر اباسینه پورې خوره اؤ د مینځنی اسیا اؤ برصغیر مینځ کښي پرته ده.

دپښتون دغه تاټوبے په مختلفو وختونو کښي په مختلفو نومونو یاد شوے دے. لکه اریانه، خراسان، افغانستان، روه اؤ داسې نور. نامتو یونانی جغرافیه دان «استرابو» په ۲۳. عیسوی کښي داریانه دحدونو په بابله وئیلی دی چي داپه ژبه قائم وؤ. هم دې خاورې ته احمد شاه بابا پښتونخوا وئیلی دی فرمائی:

ستا د عشق لهٔ وینو ډک شو ځیګرونه
ستا په لاره کښې زلمی بیلې سرونه
تا ته راشم زړګے زما فارغ شي
بې لهٔ تا مې اندیښنې دزړه سارونه
دډیلی تخت هیرؤمه چې را یاد کړم
زما د ښکلي «پښتونخوا» دغره سرونه
کهٔ هرخوسې ددنیا ملکونه ډیر شي
زما هیر نهٔ شی دا ستا ښکلی باغونه
درقیب د ژوند متاع به تار په تار کړی
چې په تُورو پښتانهٔ کهٔ ګذارونه
دفرید[1] اؤ داشرف[2] دور به بیا شي
چې زه او کاندم په هر لوری تختونه
کهٔ تماسه دنیا یؤ خواته بل خوائې
زما خوښ دی ستا خالی تش ډ ګرونه
احمد شاه به دغه ستا قدر هیر نهٔ کړه
کهٔ وونیسی د تمام جهان ملکونه

(حواله پښتانهٔ شعراء لوسړی حصه )

۱: فرید خان دشیر شاه سوری اصلی نوم

۲: شاه اشرف ناستو پښتون حکمران دبابا هوتک نمسے چې دافغانستان سره ئې دایران اؤ اصفهان ځنې علاقې په خپل حکوست کښې شاملې کړې وې.



داحمد شاه بابا نه ډیر وړاندې دې خاورې ته بابا هوتک په خپل یؤ نظم کښې هم پښتونخواوئیلی دی فرمائی

غښتلیونک کړې داسو وار دے
مُغل راغلے، په تلوار دے
په پښتونخوا کښې، جوړ ناتار دے
په کلی کور باندې مغل راغے
هم په غزنی هم په کابل راغے
اے دمرغی[1] غښتلیو راشئ
په ننګ ولاړ د پښتونخوا شئ
تورې تیرې غشی تر ملا شئ
په کلی کور باندې مغل راغے
هم په غزنی هم په کابل راغے

[1] عوړه مرغی یا عوړه مرغه

لکه څنګه چې دا خاوره په مختلفو وختونو کښې په مختلفو نوسونو یاده شوې ده هم دغه رنګه ددې ټاټوبی اوسیدونکی هم په مختلفو نوسونو یاد شوی دی. چې ورکښې پښتون، افغان اؤ پټهان معروف نوسونه دی، لفظ پښتون دویدونو دښد اؤ ښت اؤ دیونانیانو د پکتین یا پکتیا نه اخذ شوے دے پښتنو شاعرانو اؤ لیکوالو هم لفظ پښتون یاد کړے دے.

دوسط ایشیاء اوسیدونکو «پښتانهٔ» په افغان بللی دی. دنوؤ نسلی اؤ لسانی څیړنو په رڼا کښې چې په سر کښې ئې مشهور ناروېجی پښتو پوهاند ګیورک سورګن ستېرن دے. پښتانهٔ دهغو ساکانو یوه غوره څانګه ده چې په ۲۵۰ قبل مسیح کښې ئې د ساکستان (سیستان) نه تر کشمیره یوه لویه امپراتوری جوړه کړې وه.

دافغانستان ټول قامونه دشهریت په لحاظ افغانان دی. چونکې افغانستان پښتنو خپل ټاټوبے ګڼلو ځکه چې «میرویس نیکهٔ» اؤ «احمد شاه بابا» په یوٴ انتظامی وحدت کښې اوپیرلو. اؤ په افغانستان دوه نیم سوه کاله دپښتنو حکمرانی وه. په دې اساس هر پښتون افغان ووٴ لې هر افغان پښتون نهٔ ووٴ. ځکه چې په افغانستان کښې نور هم ډیر قامونه ووٴ. چې دشهریت په لحاظ افغانان ووٴ خو د نسل په لحاظ ازبک، تاجک، هزاره، نوریستانی، اؤ داسې نور ووٴ. دبر صغیر خلقو پښتون په پټهان یاد کړے دے. چا وئیلی دی چې پښتون اول په پټنه باندې حکومت جوړ کړو ځکه نو دپټنه نه پټهان شو. بهرحال زمونږ مقصد داپلټنهٔ ده. مختصرًا به دوسره ووایو چې د کوم قام ژبه پښتو ده هغه پښتون دے اؤ دافغانستان دشهریت په وجه ورته دوسط ایشیا اؤ بر صغیر خلق افغانان هم وائی. په نورو ټکو کښې به دا ووایو چې پښتون. افغان اؤ پټهان یوٴ قام دے یوٴ خلق دی.



دپښتنو دنسل په باره کښې هم دمورخینو درایو اختلاف دے. یوه ډله وائی چې پښتانهٔ دبنی اسرائیلو دهاغه دولس قبیلو اولاد دے چې دبابل نه راوتلې وې. ددې شجرې وړومبے راوی «نعمت الله هروی» دے چې دمغل باد شاه جهانګیر په دربار کښې وقائع نویس ووٴ اوٴ «مخزن افغانی» نومې کتاب ئې لیکلے دے. ددې نه وړاندې ددې نظرئې څرګندوٴنه په «افسانه شاهان» نومې کتاب کښې شوې ده اؤ پښتنو قدیمی موٴرخینو دنعمت الله هروی نظریه خپله کړې ده.

سراولف کیرو اؤ خان عبدالغنی خان چې ددواړو دتصانیفو سر خط «دی پټهانز» «THE PATHANS» دے. دوی ددې نظرئې سره اتفاق نهٔ دے کړے چې پښتانهٔ بنی اسرائیل دی. بلکې ددې دواړو په خیال پښتانهٔ دهاغه ټولو حمله اوروُ (پارسیان، یونانیان، منګول، اؤ ترک وغیره) مخلوط نسل دے. ولې ددې وضاحت ئې نهٔ دے کړے. چې ددې فاتحینو اختلاط اخر د چا سره؟ ځکه چې دنسلونو اختلاط خو په ګرده نړۍ کښې شوے دے.

په اوسنو لیکوالو کښې عبد الحئ حبیبی، بهادر شاه ظفر، قیام الدین خادم، کوثر غوریاخیل اؤ ډاکټر مجاور احمد زیار پښتانهٔ ارياء ګڼی اؤ بیا په اریایانو کښې ئې ساکان ګڼی. داخبره ډیره ضروری نهٔ ده. ځکه چې

زمونږ اصل موضوع د پښتنو قامي مسئله په ګوته کول اؤ د تاریخ په حواله په پښتون ځوان نسل کښې د خپلې قامي مسئلې ادراک پیدا کول دي. اؤ د پښتنو پوهانو، لیکوالو، مؤرخینو اؤ سیاستدانانو پام دې مسئلې ته را ګرځول دي. دانسابو ذکر په دې لړ کښې دضمن په توګه راغلے دے. اؤ هغه هم داسې چې دقامي مسئلې تعلق د پښتون دټاټوبي، دده د ا غوني هیواد یادهاغه « Defined Territory سره دے کوم ته چې مونږ د پښتون قام جغرافیائی وحدت وئیلے دے..

دټولو مذکورو د مطالعې نه پس داحقیقت څرګند دے، چې پښتون دمنځینی آسیا یؤ ناستو پیاوړے اؤ لرغونے قام دے، چې دمعلوم تاریخ دمودې نه هم ډیر وړاندې په فطري بنیادونو جوړ شوی جغرافیائی وحدت کښې میشته دے.

هندوستان ته ټولې لارې د پښتون د خاورې دد روڼه تیریږي. دصنعتي انقلاب نه وړاندې هندوستان دسروزرو دمرغۍ په نوم یادیدو، ددنیا په هر ګوټ کښې چې هم چا قوت موندلے دے. نو دسرو زرو د مرغۍ د حاصلؤلو تکل ئې کړے دے. هندوستان ته د رسیدونه مخکښې دده تصادم د پښتون قام سره راغلے دے. دسکندر اعظم نه واخله تر شورویانو پورې چې څوک هم دې



خاورې ته رانوتے دے. پښتانۀ ورسره په نره جنګیدلی دی. سکندر اعظم چې د ایران پورې ئې لوئې لوئې حکومتونه په میاشتو اؤ ورځو کښې ووهل خو چې کله د پښتنو خاورې ته رانوتو نو پښتنو په دې لنډه ساحه کښې درې کاله بوخت اوساتلو. د خیبر درې «اپردی» چې نن ورته اپریدی وئیلے شي. سکندر اعظم دوی ته خراج ورکړو. خو څو ورځې پس ترینه اپریدو دوباره د خراج مطالبه وکړه. ددوباره مطالبې اؤ د خیبر د درې د جنګی کړ کیچونو لۀ امله دباجوړ په لار روان شو. داسپ زو سره مقابل شو «هیروډوټس» وائی چې د اښۀ شاه سوارو ؤ ځکه نو په اسپ زو یادیدل ولې ځنې مؤرخین وائی چې دا هم دغه یوسف زی وؤ. سکندر اعظم په وړومبی ځل د «کاټکله» په مقام داسپ زو دلاسه غشے وخوړو. چې دغه زخم دهغه ترمرګه پورې جوړ نۀ شو. اؤ سکندر په وړومبی ځل دااُومنله چې ددیوتاګانو اولاد هم زخمی کیدے شي. د چنګیز خان فوځونو په اول ځل د پښتنو په خاوره د «سالنګ» اؤ «غزنی» په مقام شکست وخوړو. په غزنی کښې دهغه ناستو قوماندان «شیګی توتو» ووژل شو. بیا وروستو چنګیز خان ټول غزنے تباه کړو. دبابر فوځ دموری په مقام د یوسف زو د خان «شاه منصور» نه شکست وخوړو. په نتیجه کښې بابر د شاه منصور سره صُلح وکړه

شورویان د یوُسُپر پاور په جیث د شلمې صدی د جدیدو وسلو سره افغانستان ته راننوتل. دولس کاله پښتنو په جنګ کښې بوخت وساتل اوُ د شوروی اتحاد د خوریدو فوری سبب هم دغه مهم و ګرځیدو. وئیلے شی چې د پښتنو خاوُرې ته راننوتل آسان دی خو وتل ترینه ګران دی. پښتون یوُ داسې قام دے چې دهٔ له شکست ورکول اسانه خبره نهٔ ده اوُ بیا په دهٔ باندې شکست منل خولا ګرانه خبره ده. هم دغه وجه ده چې هر فاتح د پښتنو د زور د ماتولو ښهٔ منظم کوشش کړے دے. په دې لړ کښې د مغلو اوُ انګریزانو د هاغه منصوبو ذکر لازم دے کومې چې دوی د پښتون د قامی وحدت د ماتولو د پاره په کار اچولې وې.

بابر سره د دې چې د پښتون لښکر په مرسته هندوستان فتح کړے وُ خو هغه ته دا معلومه وه چې دا قوت هغهٔ ته خطر هم جوړیدے شی اوُ دا خبره هغه خپل ځوی همایون ته د وصیت په توګه کړې وه، چې د پښتنو نه یوه لحظه هم غافل نهٔ شې. مغلو په سوونو کاله منظم کوشش کړے دے چې پښتانهٔ په ذهنی لحاظ سره مفلوج کړی. کله چې د اکبر فوځ د اسیلې په مقام یوسف زو لوټ کړو. د اکبر وزیر بیربل ئې ووژلو. سپه سالار ترینه په تیښته ووتو. دغه د اکبر باچا د پاره لویه صدمه وه. د هغهٔ



فوځ تاله ترغه شو. اکبر باچا سره د خپل دربار «نورتن» اټک ته راغے. هلته ئې کیمپ ولګوُلو اوُ دا فکر ئې کولو چې د دې هزیمت یا ماتې بدل به څنګه واخستے شی. اوُ د حکومت وقار به څنګه بحال ی. د حملې اوُ د پښتنو د خاورې دفتح کولو اوُ هلته د مستقلو چاونړو منصوبه بندی په دې دلیل رد شوه چې پښتانهٔ ماتې نهٔ منی نو مسلسل تصادم به وی اوُ د دولت امدن به هم دلته خرڅ کیږی. لهٔ دې کبله دربار دا فیصله وکړه چې پښتانهٔ بې دولته اوُ د مال اوږی دی. کومه پیسه به چې په جنګی مهماتو لګوُلے شی د هغې ډیره کمه برخه دې پښتنو مشرانو ته د مواجب پټکی اوُ لونګی په دود ورکړے شی اوُ منصبونه دې هم ورکړے شی. د دغه مشرانو په ذریعه ئې قام قابو وساتلو. دغه شان دې منصوبې د پښتنو په قامی وجود کښې یوُ داسې مرض ورننویست چې سرئې د تن نه اوُ تن ئې د سر نه بیُل کړل.

دې عمل د پښتنو د معاشرې په سیاسی اوُ سماجی بنه کښې ورو، ورو ډیر لوئې بدلون راوستو. د پښتنو اکثر ادارې په اجتماعیت ولاړې وې اوُ فیصلې ئې د جرګې لهٔ لارې کیدې. د قام قبیلې مشر خان اوُ ملک به د جرګې لهٔ لورې په قامی اتفاق سره ټاکلے کیدل. د مشر مهمان خانه اوُ د فیصلو ځائې چې په حجره یا دیرې به د ټول

کلي يا کم از کم دټولي محلي شريکه حجره وه. ددې حجرې دميلمنو خرڅ اخراجات اؤ د خانی ملکی د تحفظ د پاره به ټول قام شريک جائداد مختص کؤلو. داسې نورې ګڼې ادارې په اجتماعی بنياد ولاړې وې . دمغلو دمواجبونو په ذريعه دمشرانو ټاکلو دې اجتماعی نظام ته ډير زيات نقصان ورسولو ، ځکه چې د حکمرانانو لۀ اړخه نامزد مشران وټاکلے شول. داجتماعی حجرو په ځائې ذاتی حجرې اؤ بنګلې جوړې کړے شوې. قام دمشر نه بغير څۀ نۀ شی کؤلے اؤ مشر دقام نه بغيرڅۀ وجود نۀ لری. مشر په مواجب اؤ لونګی د غاصب ملګرے شو.

ددې نه علاوه مغلو اؤ خاص کرانګريزانو په ګڼو ځايونو ګڼې قامی مشرک جائيداد خپل دغه نامزد خانانو ته د جاګير په توګه ورکړو اؤ دغه شان په هاغه معاشره کښې چې تر ډيره حده په قامی ورورولی اؤ د برابری په بنياد ولاړه وه يؤ رنګ جاګيرداری نظام قائم شو . کۀ پښتون خپل قامی وحدت حاصلول غواړی نو د معاشرې نه به جاګيرداری نظام اؤ مواجب ختمول وی.

په کال ۱۹۶۲ کښې چې زمونږ په صوبه (چې دفرنګی دوخت نه په صوبه سرحد ياديږی) کښې د جمعيت العلماء اسلام اؤ نيشنل عوامی پارټی حکومت جوړ شو نو زۀ هم پکښې وزير وؤم. ما په کابينه کښې داخبره



وکړه چې ترڅو د پښتنو دوجود نه دنری رنځ دامرض نۀ وی ويستلے شوے تر هغې پورې د پښتنو قامی وحدت نۀ شی حاصليدے. خبره ډيره نازکه وه د کيبنټ غړو دا ووې چې داټول مشران به زمونږ ګريوان ته لاس واچوی. ما ورته ووې چې کۀ چيرې مونږ د پښتنو قامی وحدت غواړو نو علاج ئې بل نشته اؤ شروع به ئې زۀ د خپلې ضلعې سوات نه وکړم . ضلع سوات کښې د خانانو ملکانو چې زما د کورنۍ افراد هم ورکښې شامل وؤ څۀ د پاسه « پنځه لکه روپۍ » د کال ماجب وؤ. مونږ دا فيصله وکړه چې دغه رقم به طالب العلمانو ته د وظائفو په توګه ورکړے شی. دا به دهاغه تعليمی وظائفو نه علاوه وی کوم چې ددې ضلعې دسکولونو اؤ کالجونو طالب علمانو ته محکمه تعليم دوظائفو په توګه ورکوی دضلعې خانانو اؤ ملکانو يؤ غوبل جوړ کړو خو چونکې فيصله صحيح وه ځکه نو زمونږ نه وروستو هم چادغه ماجبونه بحال نۀ کړل. زما دا اراده وه چې دغه فيصله به په ټول ملاکنډ ډويژن اؤ بيا وروستو په ټولو قبائلی علاقو حاوی کړم خو ډير زر زمونږ حکومت ختم کړے شو.

دمغلو نه پس د پښتنو خاورې ته دلږې مودې
د پاره سکهان رانوتل خو دوی لا استقلال نهٔ وُو موندلے چې
فرنګیانو ټول هندوستان فتح کړو. او د پښتنو خاورې ته یوُ
حمله آور د جنوب لهٔ اړخه راغے. دفرنګیانو نه مخکښې
هندوستان ته ټول حمله اور د شمال نه راغلی وو.
انګریزان اول د نیپولین دمخ نیوی او بیا وروستو پهٔ مشرقِ
وسطی کښې د «زارروس» د خطر دمخ نیوی د پاره د پښتون
خاورې ته رانوتل اګر چې پښتانهٔ پهٔ خپله خاوره کښې
منتشر او کمزوری پراتهٔ وو خو د حمله اور پهٔ مقابل کښې
راپاخیدل چې دغه ئې فطرت دے. دوی دفرنګی سره دوسره
پهٔ نره وجنګیدل چې پهٔ ټول هندوستان کښې دفرنګی
دوسره وینه نهٔ وه توئې شوې خوسره چې د احمد شاه بابا په
پښتونخوا کښې توئې شوه. داسې دره، ګودر او داسې
کنډاو پاتې نهٔ شو چې ورکښې دفرنګی وینه د پښتون
دوینې سره سمه یوُ ځائې توئې شوی نهٔ وی. انګریز یوُ
ازمائیلے قوت وُ او د خپل زور په نشه کښې د «فارورډ
پالیسی» لاندې تر کابله ورسیدو او ټوله پُښتنه علاقه ئې
لاندې کړه دا جنګ په «لومړی افغان جنګ» یادیږی کال
نیم لا تیر نهٔ وُ چې پښتانهٔ په کال اتلس سوه دوه څلوېښتم
۱۸۴۲ء کښې د اکبر خان په مشری کښې د ژمی په
موسم کښې د خورد کابل نه راپاخیدل او د انګریز



د یارلس زره، اوه سوه او څلور دیرش فوځیان ئې ووژل یوُ
ډاکټر «برائیډن» ئې پرېښودو چې په جلال اباد کښې
موجود «جنرل سیل» ته په کابل کښې دفرنګی دماتې خبر
ورکړی، دا هاغه وخت وُ چې فرنګی په وسطِ ایشیاء کښې
دزارروس مخه نیوله. او دا سو پورې علاقه ئې خپله ګڼله.
دې واقعې فرنګیان دډیرې لوئې المیې سره مخامخ کړل.
فرنګی دمغلو نه هم طاقتور، پوهه او عیار قوت وُ. هغوی د
خپلې مستعمرې دساتنې په خاطر د پښتون د قوت دماتولو
کوششونه شروع کړل او پښتون ئې د خپلې درې غبرګې
پالیسی «Three fold frontier Policy» لاندې په
جغرافیائی ډول تقسیم کړو. ددې پالیسی سره فوری طور
فرنګی د خپلې ماتې دملامتیا او ندامت کمولو او د خپل
وقار دقائمولو د پاره بیا په کابل حمله وکړه چې هاغه کلے
اوسیزی د کوم نه چې ددوی خلاف افغانان راپاخیدلی ووُ.
دقندهار دلوری جنرال ناټن او د جلال اباد دلوری« جنرال
سیل» په کابل یرغل وکړو خو دوسره په تُندی کښې ووُ
چې د «خورد کابل» په ځائې ئې په لاره کښې د «غونډی»
کلے وسیزلو. دوی د پښتون دمستقل قوت ماتولو د پاره
«درې کرښې» راکښلې او د پښتنو خاوره ئې په دریو ټوټو
کښې وویشله. دوړمبی کرښې لاندې علاقې ته ئې رات
یعنی( «setteled Area» ووې. په دې علاقه کښې

فرنګی خپل قانون، پالیسی اؤ نظام تعلیم نافذ کړو. ددې کرښې نه بره ئې یوه بله کرښه راکښله چې د «ډیورنډ د کرښې» په نوم یادیږی. ددغه کرښې نه لاندې علاقه ئې په ایجنسو، ریاستونو اؤ علاقه غیر کښې وویشله. دغلته فرنګی خپل وجود د پولټیکل محکمې په ذریعه قائم اوساتلو اؤ د سړک اؤ چاوڼو نه علاوه ئې په نوره علاقه کښې اندرونی طور په ظاهره دخل نۀ کولو. اؤ نۀ ئې ورکښې خپل قانون اؤ نظام نافذ کړو. دا علاقه د پښتون دعلاقې سینځنی سیمه ده اؤ د ملا د تیر حیثیت لری دائې ځکه په مختلفو ټوټو کښې تقسیم کړه چې د پښتنو قامی وحدت پاتې نۀ شی اؤ لۀ بده سرغه دغه تقسیم د پاکستان دجوړیدو نه پنځوس کاله پس نن هم قائم دے.

ډیورنډ د کرښې نه بره ئې د «امو» سره یوه بله کرښه راکښله دډیورنډ د کرښې اؤ ددغې کرښې ترمینځه علاقې ته ئې افغانستان ووې. دغلته ئې نۀ خپله پولټیکل محکمه جوړه کړه اؤ نۀ ئې نور د څۀ قسم مداخلت کولو دغه علاقه ئې د کابل امیر ته د حکمرانی د پاره ورکړه. ولې دغه امیران به ئې په خارجی امورو کښې خپل تابع ساتل



دافغانستان اؤ زار روس په مینځ کښې چې کله دسرحد (دریائی امو) نشان دهی کیدله نو د افغانی وفد مشری «سائمن» نوم انګریز کؤله. نوظاهره ده چې دغه سرحد یا پوله په حقیقت کښې دفرنګیانو اؤ روسیانو ترمینځه سرحد ؤ. دغه شان ئې دافغانانو جغرافیائی وحدت ټوټې ټوټې کړو. په حقیقت کښې دا سرحد نۀ ؤ بلکې دانګریز دښکاره اؤ غیر مرئی سلطنت حدونه وؤ.

دډیورنډ د کرښې دواړه غاړو ته د خلقو په تګ راتګ دهیڅ قسم پابندی نۀ وه په یوه ټوټه باندې ئې دافغانستان نوم قائم وساتلو. غرض ئې داؤ چې په نفسیاتی ډول د پښتنو ذهن د خپل هاغه افغانستان نشت والی ته متوجه نۀ شی په کوم کښې چې پښتون قام دافغانستان د نورو قامونو سره اوسیدو اؤ سرحدونه ئې دامونه تر اټک پورې وؤ. نتیجه ئې دا شوه چې د تقسیم خلاف رد عمل په شدومد سره پیدا نۀ شو بلکې د «Slow Poisioning» یعنی دورو ورو ختمولو په انداز کښې ئې اثر وکړو. دافغانستان امیرا ګرچې خپلو خلقو ته باچا ښکاریدو خو هغه ته دا حقیقت معلوم ؤ چې هغه دفرنګی د لاسه په سخت ناست دے. فرنګی په خارجه امورو کښې افغانستان دومره پابند ساتلے ؤ چې کوم امیر دفرنګی د خوښې نه چپ قدم ایښے دے نو بیا پاتې شوے نۀ دے. دامیر

دوست محمد خان نه واخله تر امیر امان الله خان پورې دټولو امیرانو سره وار په وار هم دغه توقه شوې ده ، امان الله خان دافغانستان هاغه امیر وُ چې دفرنگی سره هم په دغه خبره وجنگیدو، ددې نه وروستو په پینډۍ کښې «معاهده» اوشوه دامان الله خان رتبه د «امیر» نه باد شاه ته جیگه شوه ، اوُ فرنگیانو دا اومنل چې افغانستان په خارجه چارو کښې هم خود مختاره هیواد دے. امیر امان الله خان دا غوښتل چې افغانستان دنړی په ازادو هیوادونو کښې اودروی. په دې وجه پښتنو کښې د غازی امان الله خان په نوم مشهور شو دهغهٔ هم دغه خواهش دهغه دمعزولی اوُ دملک نه دجلا وطنی سوب وُگرځیدو. انگریزانو ځینی پیران دهغهٔ خلاف راپاخول اوُ حبیب الله خان چې دبچه سقاو په نوم مشهور وُ چې په سپینه وږی پیښور کښې ئې دیوُ مزدور په حیث کار کوُلو هم دهغهٔ په لاس ئې په امان الله خان تخته واړوُله .

ددې جغرافیائی تقسیم سره ئې دمغلو دماجبونو اوُ دمنصبونو منصوبه نهٔ صرف داچې بحال وساتله بلکې نوره ئې هم پراخه کړه. په دې وجه هاغه قام چې په هر اړخ یوُ وحدت دے اوُ دمعلوم تاریخ دزمانې نه یوُ وحدت پاتې شوے دے کهٔ حکمرانی ئې خپله وه اوُ کهٔ خاوره ئې دبل قوت تابع وه خو وحدت ئې تقسیم شوے نهٔ وُ. ددې ماجبونو



،منصوبونو دپالیسی اوُ ددرې غیر کی سرحد دپالیسی په وجه ذهنی اوُ جغرافیائی طور تقسیم شو. پښتانهٔ ددې تقسیم په وجه د یوُ بل نه ډیر ناخبره پاتې شوُ. اوُ دوخت د تیریدو سره دیوُ بل نه نا اشنا اوُ بیگانه شول.

جغرافیائی طور یوُ وجود په دریُو حصو کښې تقسیم کړے شو. اوُ په هره حصه ئې یوُ داسې نظام رائج کړو چې هغه دبل سره څهٔ مطابقت نهٔ لرلو. چې ور کښې دقبائلو نظام ډیر عجیبه دے. چې د پاکستان د جوړیدو نه پنځوس کاله پس نن هم موجود دے. داسې نظام چې ور کښې بالغ ته د ووټ ور کولو حق هم نشته. بنیادی حقونه ئې غصب دی. عن تر دې چې د پولیټیکل محکمې یوُ ور کوټے افیسر د ایف سی آر لاندې ددوی ازادی ترولے شی اوُ جیل ته ئې لیږلے شی کهٔ پولیټیکل محکمه ددوی کورونه وران کړی یا ئې جیل ته ولیږی نو دوی ته ددغه عمل خلاف داپیل کولو حق نشته اوُ دخواشینی خبره داده چې بیا هم ځان ته ازاد قبائل وائی.

زهٔ چې په کال ۱۹۹۳ ء کښې دریاستی امورو اوُ قبائلو وزیر وټاکلے شوم نو ما یوُ بیان ورکړو چې قبائلو له به دبالغ رائې دهی حق ور کوُلے شی دصوبې په اسمبلی کښې به ورله نمائندگی ور کوُلے شی. ما دا هم وویل چې قبائلو ته به د ایف سی ار خلاف داپیل حق ور کړے شی. نو

د پاکستان د پولټیکل محکمې په ایماء قبائلي ملکانو او
خاص طور سره د قبائلو دقامي اسمبلۍ او سینټ ممبرانو
داسې غوغا جوړه کړه چې د ملک وزیراعظمې زۀ وغوښتم او
راته ئې ووې چې دا شپاړس ممبران به د حکومت خلاف
اودريږي هسې هم څمونږ دا اقلیتي حکومت په مخلوط
ډول جوړ دے نو مونږ یعني حکومت ته به ډیر تاوان ورسي.
په جواب کښې ورته ما ووې چې دا لار صحیح ده. ما چې
کوم بیان ور کړے دے دا یواځې د «پښتونخوا قامي پارټۍ»
بیان نۀ دے بلکې د پاکستان پیپلز پارټۍ په انتخابي منشور
کښې هم دغه ذکر شته. محکمه یا وزارت د وزیراعظمې په
صوابدید دے ما ته پرې څۀ اعتراض نشته. نن په قبائلي
علاقو کښې خاص طور زلمے کول او تعلیم یافته خلق د بالغ
رائې دهي حق غواړي. په صوبائي اسمبلو کښې
نمائندګي او د ایف سي ار خلاف د اپیل حق غواړي. د دې
نه پس چې کله وزیراعظمه محترمه بې نظیر بهټو پاړه چنار
ته لاړه نو هلته هغې هم قبائلو ته د بالغ رائې دهي ور کولو
خبره و کړه ځکه چې دا د یو سیاسي پرمختګ او د ملک او
قام د ترقۍ لاره ده. ولې تر اوسه پورې دا حق قبائلو ته
ور کړے شوے نۀ دے.

بل خوا د ډیورنډ د کرښې نه بره افغانستان کښې
چې کوم امیر په تخت کښیناستو، دا د هغۀ قامي فریضه وه



چې د خپل قام د ملي وحدت هلې ځلې ئې سمدستي شروع
کړې وې. خو هغۀ ته دا معلومه وه چې هغه د فرنګیانو
دلاسه په تخت ناست دے. او دا ورته هم معلومه وه چې
کۀ ما دقامي وحدت هلې ځلې خو پرېږده کۀ دا تصور مې
هم و کړو نو بیا به زۀ امیر نۀ یم. هغه ته دغه تخت د هر څۀ
نه ګران ؤ ځکه چې په تخت ځامنو پلاران او پلارانو خپل
ځامن وژلي دي. امیر د پښتنو د وحدت په ځائې د نفرت پیدا
کولو کوشش و کړو چونکې د ډیورنډ د کرښې نه بره
افغانستان کښې سیاسي ازادي نۀ وه. نو قام هم هغه سوچ
خپل کړو کوم چې د بادشاه ؤ. ځکه نو لاندې پښتون ته ئې
د فرنګي غلام وویل او سپک ئې ورته و کتل. حالانکې
د پښتو په «دود» کښې کۀ یو تربور څوک لاندې کړي یا
ئې قتل کړي نو د بل تربور دا فرض دي چې بدل ئې واخلي.
خو حالت دا ؤ چې امیر عبدالرحمان سره د دې چې ډیر زیرک
او سخت ګیر انسان ؤ هغه هم دا غوښتله چې انګریز کوم
سرحدونه ټاکي نو اودې ټاکي. خو چې ما ته او ښودلے شي
چې دغه خاوره هم ستا د بادشاهۍ د لاندې ده. هم په دغه
وخت کښې په کال ۱۸۹۳ء کښې د موجوده افغانستان
سرحدونه وټاکلے شول.

د ډیورنډ د کرښې دلاندې ګڼو پښتنو مشرانو د
فرنګي خلاف یو اوږد او مسلسل جدوجهد و کړو چې

دفرنګی نه ازادی حاصله کړی. خو زما په خیال بنیادی غلطی دا اوشوه چې پښتنو دفرنګی نه خپله ازادی د پښتون دقامی وحدت په بنیاد اونهٔ غوښتله چې د احمد شاه بابا افغانستان بیا قائم شوے وے. دې ټولوشرانو د پښتنو ازادی د هندوستان په ازادی پورې وتړله. اؤ دغه رنګ د ډیورنډ د کرښې لاندې د پښتون مخه ئې د «شمال» په ځائې «جنوب» نه وګرځوله.

هاغه درزچې فرنګی په یؤوجود کښې راوستے و. په دې وجه نور هم زیات شو اؤ درې دېره سل کاله اوشو چې دیؤ جابر د عمل خلاف دومره اوږده موده پس هم یؤ توانا قامی تحریک پیدا نهٔ شو. حالانکې داتقسیم په ۱۸۹۳ء کښې د یؤ غاصب د سازش نتیجه وه. اؤ د غاصب عمل هیڅ قسم قانونی، اخلاقی اؤ ائینی جواز نهٔ لری.

د پښتنو خاوره د هندوستان حصه نهٔ ده.

دا د هندوستان اؤ وسطی ایشیاء ترمینځه پرته ده. پښتون په تاریخ کښې چا هم هندوستانے نهٔ دے بللے. د پښتون ټول عمر تعلق، تجارتی اؤ ثقافتی اړیکې دوسطی ایشیاء سره پاتې شوی دی، چې د دوی لومړے تاتوبے هم دے. کوه هندو کش اؤ د کوه سلیمان لمنې د دوی مسکن دے. دوی نه علم د شمال نه راغلے دے دغه رنګ ده احترام هم شمال



ته ورکړے دے. دفرنګی د دې کرښو نه وړاندې د دوی تجارت شمال کښې د تاشقند، ثمرقند اؤ بخارا سره پاتې شوے دے. د انګریز د مملکت اؤ تسلط نه پس اګر چې د پښتنو تجارتی تړون هم جنوب ته راوګرځیدو خوبیا هم د شمال سره د دوی تړون قطع نهٔ شو.

دَ پښتنو داخاوره د ۵۰۰ قبل مسیح نه د مختلفو حکمرانانو د کورنو اؤ مختلفو تهذیبونو دانتظامی تصرف لاندې پاتې شوې ده چې تفصیل ئې په دې ډول دے

*۱: دهاخامنشی کورنی: د ۵۵۰ ق م ن تر ۳۳۱ ق. م پورې

*۲: سکندر اعظم (یونانیان): د ۳۲۷ ق. م نه تر ۳۰۵ ق م پورې

*۳: دموریاخاندان: د ۳۲۳ ق م نه تر ۱۹۰ ق م پورې

*۴: باختری حکمرانان: د ۱۸۵ ق م نه تر ۹۷ ق م پورې

*۵: ساکان: د ۹۷ ق م نه تر ۵ عیسوی پورې

*۶: اینډوپارتین: د ۷ ء نه تر د ۷۵ ء پورې

*۷: کُشان خاندان: د ۷۵ ء نه تر ۲۲۵ پورې

*۸: ساسانیان د ۲۳۰ نه تر د ۳۶۱ پورې

*۹: افتالیان (دسا کانونسل) د ۳۶۵ نه تر ۴۵۵ پورې

*۱۰: ساسانیان (دونیم دور) د ۵۶۸ نه تر ۶۴۴ پورې

*۱۱: کابل شاهی کورنی: د ۶۵۰ ء نه تر ۸۷۰ ء پورې

*۱۲: سفاریان : د ۸۶۱ ء نه تر ۹۰۰ ء پورې
*۱۳: هندوشاهی: د ۹۰۰ ء نه تر ۱۰۲۱ ء پورې
*۱۴: غزنویان : د ۹۶۰ ء نه تر ۱۱۵۰ ء پورې
*۱۵: غوریان د ۱۱۸۱ ء نه تر ۱۲۰۶ پورې
*۱۶: مغل خاندان : د ۱۵۲۶ ء نه تر ۱۷۳۹ ء پورې
*۱۷: هوتک : د ۱۷۰۹ ء نه تر ۱۷۳۵ ء پورې
*۱۸: دورانیان (سدوزی بارکزی) ۱۷۴۷ ء نه تر ۱۹۷۳ ء پورې

په دې ترتیب په افغانستان باندې د پښتنو دریو کورنو په مختلفو ادوارو کښې حکومت کړے دے په دوی کښې غوریان، هوتک او دورانیان شامل دی. دغوری پښتنو په حکومت کښې د افغانستان د غربی سیمو نه علاوه د سنټرل ایشیاء ځنی علاقې هم شاملې وې. سیرویس نیکهٔ چې د غلجو د کوم سلطنت بنیاد ایښودے وُ. په هغې کښې د سیرویس نیکهٔ نه وروستو عبدالعزیز خان، شاه محمود، شاه حسین او شاه اشرف حکمرانی کړې ده. په دوی کښې د عبدالعزیز خان نه علاوه شاه محمود او شاه اشرف د اصفهان په شمول د ایران ډیرې برخې په خپل



حکومت کښې شاملې کړې وې. د کال ۱۷۴۷ ء نه تر کال ۱۹۷۳ ء پورې سدوزو او بارکزو تقریبًا دوه سوه او شپږ ویشت کاله په افغانستان حکومت وکړو چې وړومبے حکمران ئې احمد شاه بابا او اخری حکمران ئې سردار محمد داؤد وُ.

دخپل تاتوبی نه بهر د پښتنو دریو کورنو په هندوستان ډیر اوږد حکومت کړے دے. دغه حکومت پرله پسې نهٔ وُ بلکې په مختلفو ادوارو خور دے. په دوی کښې غلجیان، لودهیان او سوریان شامل دی. د هندوستان د پښتنو کورنو د حکومتونو خاص خبره داوه چې دوی د "روه" سره اړیکې قائمې نهٔ وې ساتلې. ددوی دطاقت او حکومت زیات دارومدار په محلی قوت وُ. چې کله به دغه محلی قوت راټول او متحد وُ، په هند به ددوی حکومت دوام لرلو او چې به خور شو حکومت به دبل وُ. په دغه پښتنو بادشاهانو کښې «بهلول» او «شیرشاه» د "روه" سره د تعلق ساتلو یو شعوری کوشش کړے وُ خو وخت مهلت ورنهٔ کړو ددوی ددغه تفکر په نتیجه کښې د پښتنو دقبائلی سیمو ګڼ شمیر پښتانهٔ په هندوستان کښې اباد شوی دی. داؤدهٔ نه واخله تر بنګاله پورې ئې محلی حکومتونه جوړ کړی او په تاریخ کښې ئې دستائنې وړ کارنامې یادګار پریښی دی. دفرنګی د راتګ په وخت کښې د پښتو د

شلو نه زیات ریاستونه موجود وو اؤ جاګیرداری د دې نه علاوه وې .

د پښتنو په زمکه چې څو سره غیر پښتانهٔ حکمرانان راغلی دی. اؤ حکوستونه ئې جوړ کړی دی. په دوی کښې یوه خبره د توجه وړ ده اؤ هغه دا چې دغه غیرو پښتنو حکمرانانو دلته داسې حکوست کړے دے چې د پښتنو په داخلی خود مختاری کښې ئې لاس نهٔ دے وهلے .

پښتون قام په نفسیاتی ډول خصوصی کړهٔ وړهٔ لری. پښتوئې ژبه اؤ پښتونولی ئې د ژوند ضابطه ده. د ژوند د دغه ضابطې یعنی پښتونولی ډیره په سختئ سره پابندی کوی. جرګه، سیلمه پالنه ، پناه ورکول بدل اؤ ننواتې د پښتونولی مضبوط بنیادونه دی. د سیلمه پالنه د خپل توفیق نه زیاته کوی. په سیلمه خوشحالیږی اؤ ورته د خدائی پاک رحمت وائی پیژندګلو سیلمه له چې کوم عزت ورکوی، ناپیژندګلو سیلمه ته د هغې نه هم په درنه سترګه ګوری. د خپل سر په بیعه بل له پناه ورکوی. د پناه ورکولو عدیم النظیر مثالونه ئې تاریخې پنګه ده .

مشهوره واقعه ده چې د جنګ په دوران کښې یؤ ژوبل زلمے د یوې پښتنې ابی کیږدئ ته ساه نیولے ورننوتو. اؤ پناه ئې وغوښتله. زنانه پناه ورکړه . ساعت تیر نهٔ وُ چې څهٔ کسان کیږدئ ته رانوتل اؤ د پښتنې ابی نه ئې د دغه



سړی غوښتنه وکړه . ابی انکار وکړو په دې اساس چې هغې ورله پناه ورکړې وه. سړو ابی ته ووې چې هم دا سړے ستا د دوؤ زامنو قاتل دے . ولې ابی پښتنه وه ، بیا ئې هم په کلکه وویل چې کهٔ هر څنګه وی، دهٔ له اوس ما پناه ورکړې ده اؤ نهٔ شم کولے چې لهٔ خپله لاسه ئې تاسو ته حواله کړم [1]

بدل د پښتنو په تاریخ اؤ اسروزه ژوند کښې ډیر لوئې اهمیت لری مشهور متل دے چې "د بدل کانی په سمندر کښې هم نهٔ ورستیږی". بې شمیره داسې واقعات شته چې د نیکهٔ د سرګ بدل نمسی اخستے وی پښتانهٔ د بدو بدل اخلی اؤ په ننواتې سړے هم بخښی، ننواتې په اصل کښې د خپل جرم یا خاسی اعتراف کولو او د پښتونولی په اساس جرم بخښلو ته وائی. دده په ټپو، اولسی قیصو کښې د سیلمه پالنې اؤ ننواتې ذکر د مخصوص عنعناوی څرنګوالی هندارې دی. د پښتون په ټولنیز ژوند کښې جرګه لوئې اهمیت لری. جرګه د پښتنو داسې نمائنده قاسی غونډه وی. چې نهٔ ئې صدروی اؤ نهٔ سکتر په یؤ نکاتی ایجنډه راغونډیږی خو د جرګې په دوران کښې نورې نکتې هم سینځ ته راتلے شی. د جرګې [2]

۱: پښتون کون ؟ صفحه ۱۴۱ (پریشان خټک)

MANNERS AND CUSTOMS OF THE AFGHANS BY PROF. DR. MOHD ALI» :۲

فیصلې په اجتماعی قبولیت کیږی. د جرګې فیصلې قاسی
بنه لری. اؤ هیڅ څوک د هغې نه دانکار جرأت نۀ شی
کؤلے. هاغه شخړې چې نورقاسونه ئې په خونړوجګړو هم
نۀ شی حل کؤلے. پښتانۀ ئې په جرګه کښې بغیر د څۀ
شروشدت نه فیصله کوی

په تاریخ کښې د جرګې ډیرې عظیم الشانه
فیصلې موجودې دی. احمد شاه بابا ته د حکمرانۍ پټکے
جرګې ورپۀ سر کړے ؤ. اؤ ځکه ئې ټول پښتون قام په شا
ولاړوؤ.

## لکه چې مې ؤویل دپښتنو اکثرلوئې اؤ

تاریخی فیصلې د جرګې دلارې شوی دی پښتون مذهب
هم په اجتماعی ډول قبول کړے دے. کۀ بدھ مذهب ئې
قبول کړو نو دغه مذهب اؤ د هغې خدمت ته دوسره مخلص
ؤوچې دغه مذهب ئې دشمالی اؤجنوبی هندوستان
دپولې نه هاغه غاړه دتبت اؤ چین سرحدونو ته اورسولو
کۀ اسلام ئې قبول کړو نو په خپله دغه من حیث القوم
فیصله دوسره ټینګ اودریدوچې دغه مذهب ئې دبرصغیر
هر ګوټ ته اورسولو. په انډونیشیا، ملایشیا اؤچین
کښې داسلام موجودیت دده دمخلصانه زیاربا سنې نتیجه
ده. په انفرادی اؤ اجتماعی ډول پښتون ډیر زړه ور، فراخ



دله، رواداراؤ د هر ډول لسانی اؤمذهبی تعصب نه ازاد
دے. د کلتوری رواداری مثال ئې دادے چې په نورو
جغرافیائی وحدتونو کښې دمیشته کیدو لۀ اسله ئې خپله
ژبه اؤ کلتور هم پرینښے دے. دمیان والی نیازیان دقصور
خانان، دازاد کشمیر سدوزیان اؤ دروهیل کنډ پښتانۀ
دمثال په توګه وړاندې کیدے شی.

پښتون یؤخوش دل اؤخوش باش قام دے خو په
عزت نفس سر هم ورکوی خاص طور سره په کوردننه په
خپل هیواد کښې دده دغربت دده د عزت نفس په لاره کښې
خنډ نۀ دے. کۀ نوکری کوی نو هم په عزت، د خپل
ټاټوبی نه بهر هیڅ څوک د ځان سیال نۀ ګڼی. په جنګ
کښې دازسری په شان زړه ور اؤ دفولاد په شان کلک دے
په محفل کښې لکه دریښمو په شان نرم اؤ د عزت نفس په
معامله کښې د ګل نه نازک دے.

## داخو یؤ ضمنی بحث ؤ اصل موضوع ته

راځو، دسویت یونین دمنتشر کیدو نه پس پۀ مۀوسطِ ایشیاء
کښې یؤځل بیا لرغونی جغرافیائی وحدتونه دازادو
ریاستونو پۀ شکل کښې راڅرګند شول کمیونسټ
تسلط پۀ هراړخ دا کوشش کړے ؤچې قاسی حدبندی اؤ
قاسی تسلسل لۀ مینځه یوسی. پۀ دې لړ کښې ئې یؤ منظم

کوشش کړے وُ چې ددوی ژبه اؤنوسونه خپلې لهجې ته راواړوی. ولې اوپا کاله پس داخبره ثابته شوه چې حقائق اؤفطری تقاضې کۀ پۀ بل شکل کښې وی اؤ کۀ دقامونو دوجود پۀ شکل کښې وی ختمیدے نۀ شی. نن ټوله دنیا اؤ خاص کر پاکستان دوسط اشیاء ددې ملکونو سره تجارتی تعلقات مستحکم کول غواړی. اؤ د اوچې هاغه تجارتی لارچې دفرنګی دراتلو نه وړاندې د برصغیر اؤوسط ایشیا پۀ مینځ کښې قائمه وه اؤ کومه چې د پښتنو د خاورې نه تیریږی. یو ځل بیا پرانستل غواړی لیکن دا لار ترهغې نۀ شی پرانستے کیدے ترخو چې امن نۀ وی اؤ امن ترهغې ممکن نۀ دے ترخو چې د پښتون قامی وحدت نۀ وی حاصل شوے. چې یو وجود پۀ مینځ نیم پروت وی نو دهغې وینه بندیدل ممکن نۀ وی.

نن دنیا ډیره مختصر شوې ده، دمواصلاتو اؤ نشریاتو جدیدو آلاتو دزمکې تناوؤنه راغونډ کړیدی. دادوردله یو اتحادونو دور دے. یورپ چې ازاد اؤخپلواکه داسې ملکونه لری چې د ترقی ټول مدارج ئې وهلی اؤد خلا د تسخیر کوششونه کوی. پۀ یو اتحاد کښې دراتلو کوټلی تدبیرونه کوی. ځکه چې هغوی د خپلو راتلونکو نسلونو دپاره نوره ترقی اؤ خوشحالی غواړی. کۀ دبر



صغیر اؤوسط ایشیاء ملکونه هم ځان د ترقی یافته ملکونو پۀ صف کښې اودرول اؤ خپلو راتلونکو نسلونو دپاره خوشحالی اؤ ابادی غواړی نو پۀ پراخه سینه به لوئې اتحادونه مینځ ته راوړی اؤ زما پۀ خیال دغه لوئې اتحادونه هم د پښتون دقامی وحدت نه بغیر نۀ شی حاصلیدے.

دافسوس مقام دے چې پۀ ځائې ددې چې دپاکستان دجوړیدو نه پس د پښتون قامی وحدت پۀ لور چټک ګامونه اخستے شوے وے. بالعکس دانګریز دلاس راښکلې کرښه د دوؤ اسلامی ملکونو ترمینځه سرحد وګرځولے شو. پاکستان یو تحریک وُ. چې بنیاد ئې داؤ چې مسلمان یوُ قام دے اؤ غیر مسلم بل قام دے. پۀ دې تحریک کښې دا هیچرې نۀ دی وئیلے شوی چې دفلانی حده پورې مسلمان یوُقام دے، دپاکستان بانی قائداعظم پۀ دې حقله پۀ ۱۹ فروری کال ۱۹۴۸ء داسټریلیا اولس ته پۀ خپل یو نشری تقریر کښې اؤ پۀ ۱۷ اپریل ۱۹۴۸ء کښې پۀ ګورنمنټ هاوس پیښور کښې یوې قبائلی جرګې ته داخبره واضحه ټکو کښې وکړه چې:

WE MUSLIMS BELIEVE IN ONE GOD, ONE BOOK ... THE HOLY QURAN- 'AND ONE PROPHET. SO

WE MUST STAND UNITED AS ONE NATION. YOU KNOW THE OLD SAYING THAT IN UNITY LIES STRENTH. UNITED WE STAND. DIVIDED WE FALL

«مونږ مسلمانان په يو خدائی، يو کتاب قران پاک او يو پيغمبر صلی الله عليه وسلم عقيده لرو. نو بايد چې مونږ لکه د يو قام متحد اوسيږو تاسو دا پخوانی وينا نه ده اوريدلې چې په اتحاد کښې لوئې طاقت دے که چرې مونږ متحد يو نو ژوندی به پاتې شو او که خواره واره شو نو رااوبه غورزيږو.»

دقائد اعظم ددې وينا نه پس د ډيورنډ کرښه حد بندی نه شی جوړيدے ځکه چې لراو بر دواړه غاړو ته نه يواځې داچې مسلمانان پراته دی بلکې د يو نيکه اولاد، د يو کلتور او يوې ژبې څاوندان دی. ددې نظريې سره سم پکار نه بلکې لازمه وه چې د پاکستان حکمرانانو دافغانستان سره د څه قسم اتحاد او يو کيدو جدوجهد جاری ساتلې وے که دافغانستان حکمرانانو اعتراض کولے نو بيله خبره وه خو عجيبه داده چې د پاکستان حکمرانانو د ډيورنډ کرښه دافغانستان سره سرحد وګرځولو او دليل



ئې داوچې دفرنګی نه ورته په ميراث کښې پاتې شوې ده. دلته د علامه اقبال وينا ستاسو په وړاندې ايښودل ضروری ګڼم چې وائی:

آسيا يک پيکر آب و ګل است
ملت افغان درآن پيکر دل است
از فساد اُو فساد آسيا
در کشاد اُو کشاد آسيا

علامه وائی چې داايشيا مثال د يو وجود دے چې افغان ملت ورکښې د زړه حيثيت لری. که زړه روغ وی نو ټول وجود (اسيا) به خوشحاله وی او که زړه رنځور وی نو ټول بدن «اسيا» به بې ارامه وی. که پښتانه ددې جوګه نه وو او اوس هم نه وی چې خپل قامی وحدت تر لاسه کړی نو د علامه اقبال دمفکورې ترمخه په پاکستانی حکمرانانو دا لازمه وه او اوس هم ده چې د پښتون قام د ملی وحدت دپاره هلې ځلې وکړی. ځکه چې د پښتنو په انتشار کښې دټولې اسيا تاوان دے او ددوی په ابادی او صحت کښې دټولې ايشيا خوشحالی ده.

زه دا منم چې دافغانستان نمائنده په ملل متحد کښې دپاکستان د ګډون مخالفت کړے و او د يو

ګاونډی ملک په حیث ئې ددې هیواد خیرمقدم نهٔ وٝ کړے خو دیٝو شخصی نظام پهٔ خوا کښې دیٝو جمهوری نظام قائمیدل به هغوی دځان دپاره ارو سرو خطر ګڼلو. ددې دپاسه بایدچې دپاکستان واکدارانو هاغه بنیادی سفکوره پهٔ نظر کښې ساتلے وے کومه چې علامه اقبال پیش کړې وه. دسکندرمرزا پهٔ وخت کښې چې کله اسلم خټک پهٔ افغانستان کښې سفیروٝ دپاکستان اوٝ افغانستان کنفډریشن منصوبه تقریبًا اختتام ته رسیدلې وه . پهٔ دغه لړ کښې سکندر مرزا دملک دسربراه پهٔ حیث کابل ته تلے وٝ ددوه ورځو پهٔ دوره وٝ اوٝلس ورځې ئې تیرې کړې . دغلته د کنفیډریشن دنوم اوٝ نظام ټول مراحل سرته رسیدلی ووٝ . ولې دایوب خان پهٔ وخت کښې دغه منصوبه شاته وغورزولے شوه اوٝ ددواړو ملکونو ترمینځه بیا تلخی پیدا شوه . ځکه چې دواړه طرفته واکدارانو کښې نهٔ دا اهلیت وٝ اوٝ نهٔ جرأت چې دانګریز دتقسیم نه ئې ګام اړولے وے .

دشوروی اتحاد د منتشر کیدو نه پس چې کله دوه پریزې نظام ختم اوٝ یوٝ پریزې نظام مینځ ته راغے اوٝ امریکا دسُپر پاور نه سپریم پاور شوه نو د «نیو ورلډ آرډر» پهٔ نوم یوٝ نوے تصور وړاندې کړے شو . دشلمې صدۍ تر اخره پورې انسان دومره ترقی کړې ده چې پهٔ خپل کره ارض



کښې ئې د کلونو فاصلې منټونو ته راوستې دی. سپوږمۍ ته رسیدلی اوٝ نورو سیارو ته د رسیدو کوششونه کوی. خو ددې هر څهٔ باوجود انسان دذهنی سکون اوٝ قلبی اطمینان نه ورځ په ورځ محروميږی . وجه ئې داده چې داستحصال عمل زیاتیږی . اوٝ نهٔ یواځې داچې دفرد استحصال کیږی دوړو، کمزورو ،اوٝ بې وسه قامونو اقتصادی، کلتوری اوٝ سیاسی استحصال هم دوام لری. کهٔ ټوله دنیا پهٔ یوٝ تړون کښې راشی اوٝ نظام ئې داوی چې داستحصال مخه نهٔ شی نیولے نو امن به غائب اوٝ مایوسی اوٝ بې اطمینانی به خوریږی . استحصالی قوتونه پهٔ دې هم ځان نهٔ پوهوی چې استحصالی عمل نهٔ یواځې د کمزوری سکون تباه کوی اوٝ پهٔ مصیبت کښې ئې اچوی. بلکې د جابر ژوند هم د ذهنی پریشانۍ اوٝ قلبی بې اطمینانۍ سره مخامخ کوی.

کهٔ صرف دومره فکرو کړے شی چې زمونږ دنیا اوس ډیره مختصر شوې ده چې د ګوټ ګوټ حال د هرچا پهٔ وړاندې دے نو پکار اوٝلازمه ده چې ورسره یوٝ عالمی تړون مینځ ته راشی اوٝ دا هرڅهٔ پهٔ پراخه سینه اومنلے شی. چې پهٔ دې دُنیا کښې وړو قامونو ته هم داوسیدو داسې حق شته لکه څنګه چې طاقتورو قامونو ته شته اوٝ داچې دوړوقامونو د کلتور، ژبې دودې یوٝ پُرامن اوٝ خوشحاله دنیا

ته نن دومره ضرورت دے څومره چې غاوره قامونو ته دے ، کمزورو قامونو ته هم پهٔ خپل مذهب اؤ دستور باندې د عمل کولو داسې ازادي پکار ده لکه چې نورو قامونو ته ده. کهٔ داسې اوشي نو دا دنیا به د امن غیره شي. دا هرڅه څهٔ نوې خبره نهٔ ده. دا اؤ ددې نه زیات د اقوام متحده پهٔ منشور کښې لیکلے شوي دي. اؤ ټولو قامونو پهٔ رسمي طور منلي دي. خو مسئله پهٔ رسمي دستخطونو نهٔ حل شوې ده اؤ نهٔ حل کیدے شي. د مسئلې حل په پراخه سینه انسانان یؤ برابر تسلیمول دي. کهٔ داسې اوشي نو بیا به واړه قامونه بې وسه اؤ بې توقیره نهٔ وي پراتهٔ اؤ کوم قامونه چې استحصالي قوتونو د خپلو مفاداتو د خاطره تقسیم کړي دي. د هغوی د یؤ کولو د پاره به هم دغه لوئې قوتونه لارې پرانیزي.

نن هم د دنیا پهٔ مخ ډیر قامونه تقسیم پراتهٔ دي. اؤ د پیړیو راسې هغوی د خپل قامي وحدت د پاره هلې ځلې کوي. چې د دنیا په قامونو کښې سرلوړي شي. خو لا تر اوسه دغه واړه قامونه د وخت په شکنجو کښې ښکیل پراتهٔ دي پهٔ دوی کښې پښتون قام هم دے چې درې د بره سل کاله وړاندې د یؤ غاصب د لاسه تقسیم شوے دے. اؤ لا تر ننه تقسیم پروت دے د پاکستان د ازادۍ پنځوس کاله اوشو اؤ دا درې ټوټې پښتانهٔ (سرحد، قبائل اؤ بلوچستان)



هم پهٔ دې ملک کښې دي. خاوره ئې د پاکستان حصه ده. ولې درې واړه ټوټې بې نومه دي. «صوبه سرحد» د یؤ نوآبادیاتي مملکت شمال مغربي سرحد ؤ. دغه مملکت پهٔ ۱۴ اګست ۱۹۴۷ء باندې د پاکستان د ازادیدو سره سم ختم شو اؤ د پښتنو خاوره پهٔ ځائې ددې چې پهٔ داسې نوم یاده شي چې د اوسیدونکو پته ترې ولګي. لاهغسې پهٔ شمالي مغربي سرحدي صوبه یادیږي. اخر د چا شمال مغربي سرحد؟ د فکر وړ خبره ده.

بل قبائل دي نو ورسره بل لفظ نشته چې کوم قبائل دي چې شناخت ئې اوشي. قبائل پهٔ نورو هیوادونو کښې هم شته ولې هغوی هلته خپل نوم لري. خپله پیژند ګلو لري ولې دلته د قبائلو نهٔ خپل نوم شته اؤ نهٔ پیژند ګلو.

د پښتون قام یؤ حصه پهٔ بلوچستان کښې ده چې د صوبې تشکیل ئې پهٔ کال ۱۹۷۰ء کښې شوے دے. ظاهره ده چې په بلوچستان کښې به بلوچي اوسي، لکه څنګه چې پهٔ پنجاب کښې پنجابے اؤ پهٔ سندهـ کښې سندهے اوسي. کله چې د بلوچستان پښتون سرحد ته راشي نو ددې ځائې پښتانهٔ ورته «بلوچے پښتون» وائي دغه کلمه پهٔ هغه دومره بده اؤ ترخه لګي لکه چې څوک ورته بربنډ کنځل وکړي. پهٔ دې معامله کښې ددې

اوسوسی. زما یقین دے چې کۀ داسې اوشی اؤ دقامونو پۀ لوئې وحدت کښې د پیللی کیدو لار خلاصه شی نو پۀ ټوله سیمه کښې به امن اؤ خوشحالی مینځ ته راشی.

فطری وحدتونه چې پۀ هر ځائې کښې تقسیم شویدی. نو تاریخ ښائی چې کۀ دغه وحدتونه د امن د لارې بحال شوی نۀ دی نو تاریخ د خپل جبر د لارې د وحدت منزلونه ټاکلی دی. د یویشتمې صدی اغاز باید چې دافرق راولی چې د پښتنو د وحدت مسئله د جبر په ځائې د امن، برداشت، افهام وتفهیم پۀ قامی رواداری اؤ زغم ترسره شی نو پۀ د نیا اؤ خصوصاً دې سیمه کښې به د امن اؤ خوشحالی یؤ نوے دور پیل شی.

زۀ د رب ذوالجلال بې حد شکر گذار یم چې ما د یؤ پښتون په حیث زړلی پښتون (افغان) قام ته دامختصر شان پیغام وړاندې کړو. اؤ پوره باور لرم چې د دې منتشر قام هر غړے چې هر ځائې وی پۀ هر حال کښې وی اؤ د هرې پیشې مالک وی به خپل فکر اؤ قلم د امن اؤ سینې په لار د خپل قام د وحدت اؤ تشخص د حصول طرف ته راو گرځوی اؤ د دنیا ټولو مهذبو قامونو اؤ انسان دوست تنظیمونو ته داخواست کوم چې د افغان (پښتون) قام سره خپله فعاله سیاسی اؤ اخلاقی مرسته سل کړی. چې پۀ پیړو پس دازپلے قام دغاصب دتقسیم دناوړو شکنجونه ځان



خاوړې پښتون ورور ئې هم کرم نۀ دے. دهغه پۀ ذهن کښې داوی چې پۀ بلوچستان کښې بلوچی اوسیری نو کۀ پښتون دے خو بلوچے پښتون به وی. کۀ دادرې واړه حصې چې د یؤ بل سره تړلې پرتې دی. یؤ کلتور یوه ژبه اؤ نژادی اړیکې لری یؤ ځائې کړے شی اؤ ورله خپل نوم ورکړے شی نو دا خاوړه به اباده شی اؤ چې داخاوړه اباده شی نو د پاکستان یوه حصه به اباده شی.

ماوړاندې هم ذکر کړے دے اؤ اوس یؤځل بیا پۀ تکرار اؤ تاکید سره د دې خبرې اعاده کوم چې تر څو پورې پښتون خپل قامی وحدت نۀ وی حاصل کړے ترهغې د پښتون قام مشکلات اؤ محرومی نۀ شی ختمیدے اؤ د یؤ قام د غړی پۀ حیث دوی احترام نۀ شی کټلے - کۀ پۀ پښتون کښې لادا سیاسی شعور اؤ احساس دې حد ته نۀ وی رسیدلے چې خپل قامی وحدت تر لاسه کړی نو د دنیا هاغه قامونه چې ځان ته مهذب وائی. هاغه قام چې دهغه دلاسه پښتون تقسیم پروت دے. اؤ پۀ خصوصی توگه هاغه قامونه چې د تقسیم د رد ورته معلوم دے. پۀ دوی ټولو دا لازمه ده چې د پښتون قام د وحدت پۀ احیاء کښې د دوی سره لاس و کړی پۀ دې غرض چې د بر صغیر نه تر وسطِ ایشیاء پورې پۀ دې ټوله سیمه کښې د امن دور دوره شی د ښیرازی دور راشی اؤ تجارت وده

خلاص کړی اؤ خپل قامی وحدت تر لاسه کړی.

پائی

***



خدائی بخښلے فضل محمود مخفی صیب چې یؤ پیاوړے ، نامتو ، قام پرست شاعر اؤ لیکوال ؤ، هغه پۀ زړه کښې د پښتون قام د منتشر وجود د بیا راغونډؤلو ژوندی ارسانونه لرل. د هغوی دا یؤ نظم د هغوی د قامی وحدت د ارمان ترجمانی کوی.

خاوندہ تۀ ودانه کړې زمونږ دیؤوالې حجره
یؤ ځائې پکښې د ځانه کړې د پښتون ډله خوره
یؤ زړه اؤ یؤ شان ئې کړې
دې بیل اؤ بیل بیلتون لره

کشمیر نه هرات هورې بلوچستان نه تر دورې
داټول پښتون دے هر چیرے څۀ رنګې پروت ذرې ذرې
دیؤ وجود پۀ شان ئې کړې
یه خدایا دا ذره ذره

لویوتپو د پښتنو پۀ غره پۀ سم پرتو د رنو

نمسو دلویو پرگنو راځئ چې یو شو لیونو
په خدایا ورانه کړې
سپره بیلتون لره دیره

د پښتون اول نیکهٔ خوارهٔ نمسی دې یو کړه تهٔ
داشانِ تېټ دی دوی پهٔ څهٔ خبرلهٔ یولهٔ بله نهٔ
یه خدایا ورانه کړې
سپیره بیلتون لره دیره

« پښتو » زمونږ چیرته ئې ولې لهٔ مونږ بیرته ئې
زمونږه زړهٔ ځیګر ته ئې زمونږ دقام وزرتهٔ ئې
پهٔ مونږه لاراسانه کړې
چې مونږه شو یو « کُل » سره

زمونږ دملک نه دښمنان خدایا تهٔ لرې کړې دازمان
پهٔ مونږه کړې زمونږه خان زمونږ دقام زمونږ دځان
رښا زمونږه لهٔ ځانه کړې
د پښتنو توره تیاره